
زلمی کرزی / جغرافیه

۰۳/۰۳/۲۰۲۱

# در وجه تسمیه کندهار




ساحه کندهار در اوستا به شکلی هراو خواتی یا هراواتی ودر کتیبه های داریوش ( هراووتی ) آمده مؤرخان و جغرافیه نگاران یونان آنرا اراکوزیا و اراخوزیا گفته اند به قول استاد احمد علی کهزاد مؤسس خانواده ای سکایی به نام مائوس در همین جا در (۷۲قبل از میلاد ) سلطنت مقتدری را ایجاد کرد.

اسکندر پس از جنگهای متداوم و بدست آوردن شهر ها بردرنگیانا و اراکوزیا مسلط گردید و در اراکوزیا در کنار رود اراکوتوس (ارغنداب ) اسکندریه، اراکوزیا را اعمار کرد. (۳۲۹ق م)

در سالهای (۱۷۴ــــ۱۳۶ق م) یکی از شاهان اشکائی (پارتی) بنام مهرداد ولایات غربی یونان باختری و اراکوزیا ، کابل و سند را مسخر کرد و مهرداد دوم سلطنت خود را تا کوهای همالیا رسانید. یکی دیگر از شاخه های مختلط ساکها – پارتهاـــــکه در افغانستان جنوبی و هند غربی به اقتدار رسید پرتهوا – و پهلوا بود که مرکز تشکیلات اداری آنان سیستان و اراکوزیا بوده است و یک تن از فرمانروایان بزرگ آنان گندو فارس ( گندوفار) بود.

پس از آن در عهد کوشانیان کابل و اراکوزیا داخل قلمرو مؤسس این خانواده ( کجولا کدفیزس) میگردد. در عصر کوشانیان کابل ، سند بنام گندهارا یاد میشده است که تا حدودی درنگیانا را نیز احتوا میکرده است.

بعد از ظهور دین مقدس اسلام و فتوحات عرب به شرق، دولت ساسانی منقرض گردید در سال ۲۳هجری سیستان و در ۲۴ هجری کندهار توسط مسلمانان فتح گردید در سال ۱۵۲ هجری یعقوب لیث نواحی کندهار، پنجوایی، تگین آباد و رخج ( الرخذ ) را بگرفت در قرن چهارم هجری این سر زمین تحت حکمروایی غزنویان درآمد و کندهار و نواحی آن به امن و اسایش و عظمت وبزرگی نائل شد.

اراکوزیا

مؤرخین کلاسیک یونانی اراکوزیا حوزه ارغنداب را گفته اند این ناحیه در اوستا رودخانه را به همینگونه (سراسوتی) که رود خانه ارغنداب به آن منسوب است تعبیر گردیده ولی بصورت گُل در اوستا رود خانه ارغنداب را ( هراوتی یا سراسوتی ) است میدانند .چون در آنجا آنرا (اراکوزی) گفته اند . سترابون مؤرخ و جغرافیه دان حوزه ارغنداب را اراکوزی و باشندگان آنرا اراکوتی ذکر نموده است . براساس تحقیقات دانشمندان باستان شناسی انتولوژی ، سکندرمقدونی علاوه بر اعمار شهر ها در افغانستان، یکی هم همین مقر فرماندهی نظامی و فرهنگی دوره اسکندر یا سکندریه ارکوزی است که آنرا در تاریخ و متون قدیم میتوان بنام اراکوزیا مشتق از دریای (اراکوتی) باستان یا ارغنداب دانست و سکندریه اراکوزی به آن منسوب میباشند، بطلیموس جغرافیه نگار از شهری یاد آور میشود که در کنار رود خانه ارغنداب بوده و آنرا بنام (اراکوتوس) گفته اند . احتمالاً اراکوتوس همان جایگاهی اسکندر را بگونه ای سکندریه ا راکوزیا مشخص مینماید.

در وجه تسمیه  قندهار نظریات گوناگون ارائه شده است از جمله:

یکی آنکه گویند نام قندهار با اسکندریه، اراکوزیا مرتبط است ، بدین معنی که پس  از اعمار اسکندریه در کنار ارغنداب بنای این شهر نهاده شده است و بدینگونه اسکندریه ــالکزندره -- کندهاره  و کندهار شده که معرب آن قندهار باشد.

دوم آنکه گندهارا به حوزه کابل سند اطلاق شده است و قبائیل گندهاری که منحیث قطعهٔ خاک در سرود ریگ ویدا ذکر شده مفهوم نژادی هم دارد . چون اهالی گندهارا پس از ویرانی مرکزیت (بست) به سر زمین قندهار کنونی روی آورده باعث رونق و عظمت آن شدند این ناحیه را منحیث شهر بنام گندهاره یاد کردند سپس کندهار و معرب آن قندهار گردید. زایر چینی ، هیوان تسنگ گندهاره را بصورت (کان___تو___لو)ضبط کرده است .

سوم – پس از بقدرت رسیدن گندو فارس (گندو فار) شاه بزرگ پرتهوا یا پهلوا در اراکوز یا این شهر مرکزیت حوزه ارغنداب را پیدا کرد . بدینگونه نام این ناحیه از نام ( گندوفار) آمده بالاخره کندهارو قندهار معرب شده است .

د کندهار سیمه په اوستا کی د هراوخواتی یا هراواتی او د داریویش په ډېر لیکونو کی هراخواتی راغلی ده، د یونان مؤرخینو او جغرافیا لیکونکو اراکوزیا او یا اراخوزیا بللی ده.
د استاد احمد علی کهزاد په خبره د ( سکائي ) کورنی بنسټ ایښودونکی د (مائوس) په نامه دلته یو ځواکمن سلطنت جوړ کړ.
سکندر د پر له پسی جګړو او د ښارو ترنیولو ورسته پر (درنګیانا) او ارکوزیا بر لاس سو، په اراکوزیا کی یي د اراکوتوس ( ارغنداب ) د دریاب پر غاړه اراکوزیا اسکندریه جوړه کړه (۳۲۹ ق،م) په (۱۷۴_۱۳۶ق،م ) کلنوکی یو د اشکایي (پارتی) له پاچاهانو څخه د مهر داد په نوم د باختري یونان ولایتونه، اراکوزیا، کابل او سند ونیول. او دوهم مهر داد (۱۲۴_۷۶ق م) خپل سلطنت د همالیا ترغرونو پوري ورساوه، د ساکانو او پارتیانو د ګډو ښاخونو څخه چي د افغانستان په سویل او د هند په لویدیځ کي واک ته ورسیدل،پرتهوا _ پهلوا وه چي د دوی د اداري تشکیلاتو مرکز سیستان او اراکوزیا وه او د دوی د سترو پاچاهانو څخه یو هم ګندو فارس (ګندوفار) وو.
د کوشانیانو په واکمني کي کابل او ارکوزیا د دغي کورنی د بنسټ ایښودونکی (لومړی کجولا کد فیزس) په قلمرو کی داخل وه ، د کوشانیانو په عصر کی د کابل – سند سیمه د ګندهارا په نامه یاده سوی ده او درنګیانا سیمه هم پکښی شامله وه. د اسلام د سپیڅلی دین تر ظهور ورسته د عربو فتوحات د ختیځ پر لورپیل سول چي په پایله کي ساسانی دولت ړنګ سوو، په کال ۲۳ هجری سیستان او ۲۴ هجری کندهار مسلمانانو فتح کړل، په کال ۱۵۲ هجری یعقوب لیث د کندهار شاوخوا، پنجوایی، تګین آباد، رخج (الرخذ) ونیول، په څلورمه هجری پیړۍ کی دغه ځایونه د غزنویانو په واکمني کي داخل سول. کندهار د امن، سوکالي او د سترعظمت خاوند سوو.

اراکوزیا:
اراکوزیا په لرغوني زمانه کي (یونانی کلاسیکو تاریخ پوهانو) د اراکوزی په نوم ضبط کړیدی، د اوستا په متن کي د (سراسوتی) دریاب چي د ارغنداب دریاب ته منسوب دی، تعبیر سوی دی مګر په کلی ډول په اوستا کي د ارغنداب دریاب (هراوتی یا سرا سوتی) دی څنګه چي په هغه ځای کي یی (اراکوزی) ویلی دی.
ستر ابون تاریخ پوه او جغرافیه لیکونکی د ارغنداب سیمه یي ارکوزی او اوسیدونکي یی (اراکوتي)
یاد کړی دي. دلرغون پیژندنی د پوهانو د څیړنو (انتولوژی) له مخي مقدونی سکندر په افغانستان کي د ښارونو د جوړیدو سربیره، یو هم دغه د واکمني پوځي او فرهنګی استوګنځی، سکندر یا سکندریه اراکوزی دی چي هغه په تاریخ او لرغونو متنو کي کولای سود اراکوزیا په نوم د لرغونی (اراکوتی) دریاب څخه مشتق ارغنداب وګڼو.
بطلیموس جغرافیه لیکونکی هم د ښار یادونه کوي. چي د ارغنداب د دریاب پر غاړه دی، او هغه د (اراکوتوس) په نامه یاد کړی دی، په احتمالی ډول اراکوتوس یا اراکوزیا – اراکوزی د اسکندر هم هغه ځای د اسکندریه اراکوزیا په ډول مشخص کوي.
د کندهار د وجه تسمیي په باره کي راز، راز نظریات موجود دي.

۱ – وایي چي د کندهار نوم د اسکندریه، اراکوزیا، سره تړاو لري پدی معنی چي د ارغنداب د سند پر غاړه د اسکندریه ښار بنسټ ایښودل سویدی، نو په دی ډول اسکندریه ـ الکزندره ـ کندهاره او کندهار جوړسوی دی چي معرب یي قندهار دی.
۲ – داچي ګندهارا د کابل – سند پر سیمو اطلاقیږی، ګندهاری ټبر یوه ټوټه ځمکه په ریګویدا کي راغلی دی چي توکمیز(نژادی) مفهوم هم لری. څنګه چي د ګندهارا خلک د بست د ورانیدو ورسته کندهار ته راغلل د دغه ښار د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځير و لولئ

عظمت سبب وګرځيد. دغه سيمه يي د ښار په توګه د ګندهارا په نوم ياده کړه، وروسته ګندهاره ــ کندهار او معرب يي قندهار سوو. چينی سياح هيوان تسنګ ګندهاره د (کان ـ تو ـ لو) په ډول ضبط کړی ده.

۳ ـ دا چې په اراکوزيا کی د پرتهوا يا پهلوا د ستر پاچا ګندوفارس ( ګندو فار ) واک ته د رسيدلو وروسته، دغه ښار د ارغنداب د سيمي مرکزيت وموند نو پدی ډول د دغه سيمي نوم د ګندو فار د نوم څخه اخيستل سوی دی، څو کندهار او قندهار سوو.

مأخذ:

اريانا دايره المعارف ، چاپ اکادمی علوم افغانستان

افغانستان تاريخی/ نويسنده پوهاند محمد حسين يمينی .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ